د افغانستان اسلامي امارت
د ماليې وزارت
د ارزاقو دولتي شرکت
تجارتي معاونيت

Islamic Emirate Of Afghanistan

State-Owned Corporation of ARZAQ

# د ارزاقو دولتي شرکت کې د خصوصي پانګونې فرصتونه او له نړیوالو مؤسساتو د کمکونو را جلبول

1

# منځپانګه



- د ارزاقو دولتي شرکت لنډه پیژندنه
- د ارزاقو دولتي شرکت اساسي موخې
- د ارزاقو دولتي شرکت دندې او صلاحیتونه
- په ارزاقو دولتي شرکت کې د خصوصي پانګونې عمده فرصتونه
  - د شرکت په جایدادونو کې د پانګونې فرصتونه
  - په ارتزاقي پروژو کې د پانګونې فرصتونه
  - د ځنځیري مغازو (Chain of Super Stores) په جوړولو کې د پانګونې فرصتونه
  - د روب د تولید فابریکې د جوړولو په برخه کې د پانګونې فرصتونه
  - د نباتي غوړو فابریکې جوړولو لپاره د پانګونې فرصتونه
  - د سړو خونو جوړولو په برخه کې د پانګونې فرصتونه
- له نړیوالو مؤسساتو د کمکونو را جلبول
  - په افغانستان کې د خوړو نړیوال سازمان WFP د غذایي برنامو په تطبیق کې ګډون
  - د ټولنې په مختلفو برخو کې د غذایي کوپون د برنامې پیلول
- له داخلي تولیداتو او وارداتو د غذایي موادو عرضه، ذخیره کول او د ضرورت وړ ځایونو ته رسول

# د ارزاقو دولتي شرکت لنډه پيژندنه

د ارزاقو دولتي شرکت په ۱۳۱٦ هجري لمريز کال کې د (غَلې د برابرولو مديريت) تر نامه لاندې د وخت د حکومت تر چتر لاندې فعاليت پيل، په مختلفو دورو کې يې پراختيا ومونده، په ولايتونو کې يې ځانګې پرانستي او د دې ادارې د اړتيا مطابق يې ځينې جايدادونه لکه مغازې، ګدامونه، اداري ودانۍ، د اوسيدو ودانۍ او کرنيزې ځمکې په واک کې ورکول شوې. تر ۱۳۳۳ کال پورې يې په همدې نامه فعاليت وکړ، په ۱۴۴۳ کال کې يې د عامه اړتياوو د پوره کولو او ارزاقو اداري واحد او په ۱۳۴٦ کال کې يې د افغانستان د خوراکي موادو او عامه اړتياوو مؤسسې په نوم فعاليت ته دوام ورکړ، په ۱۳۵۰ کال کې يې د منظور شوې اساسنامې په نظر کې نيولو سره د عامه اړتياوو پوره کولو او ارزاقو تصدي په نوم د ډيپوګانو، مغازو، ګدامونو او د هيواد د پنځه‌ګونو سيلوګانو په درلودو سره توانيدلې چې د مسلح قواوو د اعاشې، د روغتونونو او ليليو اکمال او تقريباً ۴۵۰۰۰ کسانو ته کوپون او اولني خوراکي مواد وويشي، دې بهير د ۱۳۷۱ کال تر لمريو پورې د دې ادارې اساسي فعاليت په توګه دوام وکړ چې د مجاهدينو د حکومت په راتګ سره د داخلي جنګولو له وجهې د دې ادارې اړوند ذخيرې، مغازې، په ګدامونو کې موجود مالونه او حتی ترانسپورتي وسايل او ټول امکانات د ياد حکومت د کمزورتيا په سبب چور شول، وروسته هم د ارزاقو تصدي رياست په خو-خو ځله د خپلو فعاليتونو طرحې جوړې او د وخت مقاماتو ته د تطبيق په موخه وړاندې کړې؛ خو د هغوئ د لزوم ديد په اساس ورته د فعاليت زمينه نه ده مساعده شوې او د افغانستان اسلامي جمهوريت مقام د ځو حکمونو په اساس تر اوسه د دې ادارې معاشونه او اداري مصارف د شرکت د غير اساسي فعاليت (د جايدادونو د کرايې) څخه تمويل او مالياتي مکلفيتونه او اضافي ګټه يې د ماليې وزارت ته تحويليږي.

د دولتي شرکتونو د قانون له تصويب سره سم د ارزاقو تصدي، دولتي شرکت ته تعديل او حقوقي شخصيت يې بدلون وکړ چې د جمهوري رياست لوړ مقام د ۲۸ ګڼې په ۱۳۹۸/۱۱/۱۵ نېټې فرمان په اساس د دولت په چوکاټ کې د ملي پراختيا په نوم شرکت جوړ او د ارزاقو تصدي هم په ياد شرکت کې مدغم او انتقال شوې وه چې د ملي پراختيا شرکت تر چتر لاندې يې فعاليت ته دوام ورکړی، وروسته د جمهوري رياست لوړ مقام د ۴۹۸۸ په ۱۳۹۹/۱۲/۱۸ ګڼه هدايت په اساس په خپلواک ډول د ارزاقو دولتي شرکت ته د فعاليت زمينه مساعده او د ارزاقو دولتي شرکت اساسنامه د ماليې او عدليې وزارتونو لخوا طی مراحل شوې چې په تير ۱۴۰۰ کال کې د لوړو مقاماتو د هدايت په اساس د کابل پوهنتون ليليو د غذايي موادو د اکمال پروسه د ۹۰ ميليونه افغانيو په ارزښت د ارزاقو دولتي شرکت ته ورکول شوې وه، د انټرکانتيننټل هوټل ځينې قراردادونه هم په تير کال کې د ارزاقو دولتي شرکت لخوا تطبيق شوې، همدارنګه د داخله او دفاع وزارتونو د ځينو غذايي موادو د تمويل پروژې هم د ارزاقو دولتي شرکت ته ورکول شوې چې د ۱۴۰۱ کال په پيل کې يې د شروع کيدو ژمنه شوې وه.

اوسمهال د لوړو زده‌کړو وزارت سره د هيواد د ۱۴ پوهنتونونو د ليليو د غذايي موادو قراردادونه د شاوخوا ۱۵۰ ميليونه افغانيو په ارزښت د ارزاقو دولتي شرکت لخوا تطبيق او په احسنه توګه جريان لري.

# د ارزاقو دولتي شرکت اساسي موخې

د ارزاقو دولتي شرکت د نوې اساسنامې لمخې د لاندې اهدافو د لاس‌ته راوړلو په موخه فعالیت کوي:

1. د ګټورتوب، مؤثریت او خوندیتوب اصل ته په کتو د غذایي موادو او نورو ضرورت وړ توکو د را ټولولو، عرضه کولو، ذخیره کولو او خرڅولو د خدماتو تېزوالی او پراخوالی
2. په معیاري توګه د غذایي موادو ذخیره کول او عرضه کول د ټولنې د اړتیا او د بازار د غوښتنې مطابق
3. د ملي پراختیا، اقتصادي پیاوړتیا، ټولنیزې رفاه او د دندو د ایجاد په برخه کې د شرکت د برخې اخستلو لپاره زمینه برابرول
4. په شرکت کې د خصوصي پانګونې د جذبولو لپاره زمینه برابرول
5. د شرکت لپاره د ګټې را پیدا کول او د شرکت مالي بنیاد تقویه کول

١

# د ارزاقو دولتي شرکت دندې او صلاحيتونه

د ارزاقو دولتي شرکت د نوې اساسنامې لمخې د لاندې دندو او صلاحيتونو درلودونکی دی:

1. د د عملياتي، سوداګريزو، بيارغونې، پراختيايي او اړوندو مالي طرحو او لايحو جوړول او تطبيقول
2. د غذايي موادو اخستل، ذخيره کول، وېشل او د قيمتونو د ثبات په خاطر د ذخيره کولو وړ غذايي موادو په معياري او خوندي توګه ساتل
3. د اړمندو خلکو د غوښتنې د پوره کولو لپاره د غذايي موادو او نورو ضرورت وړ توکو عرضه کول د منظور شوې پلان او برنامې په اساس
4. د دولتي او غير دولتي ادارو، حقيقي او حکمي اشخاصو د غذايي موادو او نور د ضرورت وړ توکو اکمال په قرارداد اخستل
5. په مسلکي، تخنيکي او اداري بخش کې کارمندانو ته د زده‌کړې او ظرفيت لوړونې زمينه برابرول
6. په مسلکي، فني، تخنيکي او اداري برخو کې کارمندانو ته د کاري اسانتياوو برابرول
7. په ملي او نړيوال معيار د توليدو شويو محصولاتو بسته بندي کول
8. د شرکت د ټولو څانګو بيا رغونه او په نوې تکنالوژۍ سمبالول
9. د عوايدو د لوړوالي او مشتريانو د رضايت په موخه د بازار موندنې لپاره د نويو او مؤثرو لارو چارو څخه ګټنه
10. د تقنيني اسنادو مطابق د يووه مؤثر او شفاف مالي، حسابي او تداركاتي سيستم ايجادول
11. په اړوندو فعاليتونو کې د خصوصي پانګوالو را جلبول

# په ارزاقو دولتي شرکت کې د پانګونې فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت تر چتر لاندې د دولتي شرکتونو د قانون مطابق، منظور شوې اساسنامې او نافذه قوانينو په رڼا کې خپل سوداګريز فعاليتونه پر مخ وړي. د ارزاقو دولتي شرکت د ستراتيژيک او کلني پلانونو لمخې هغه پروژې او برنامې چې په نظر کې لري تطبيقوي، په دې برنامو او پروژو کې د داخلي او خارجي خصوصي سکتور لپاره د عامه او خصوصي ګډون يا PPP د قانون لمخې د پانګونې فرصتونه موجود دي. د خصوصي سکتور داخلي او بهرني پانګه اچوونکې کولای شي د ارزاقو دولتي شرکت سره په لاندې پروزو او برنامو کې د مشارکت له لارې په تعين شويو شرايطو پانګونه وکړي:

- د شرکت په جايدادونو کې د پانګه اچونې فرصتونه
- په ارتزاقي پروژو کې د پانګه اچونې فرصتونه
- د ځنځيري مغازو (Chain of Super Stores) په برنامو کې د پانګه اچونې فرصتونه
- د روب د توليد فابريکې د جوړولو په برخه کې د پانګه اچونې فرصتونه
- د نباتي غوړو فابريکې جوړولو لپاره د پانګه اچونې فرصتونه
- د سړو خونو جوړولو په برخه کې د پانګه اچونې فرصتونه

# د شرکت په جایدادونو کې د پانګونې فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت په مرکز او ولایتونو کې د ثابتو او اساسي جایدادونو درلودونکی دی او د هیواد په ۳۰ ولایتونو کې فعالې نمایندګي او کارمندان لري، ۱۸۱ قطعې جایدادونه لکه (ډېرین ګدامونه، هنګرونه، ګراجونه، تیپک مغازې، دکانونه او سپینې ځمکې) په لاس کې لري او په عامه ګډون یا خصوصي ډول د پانګونې لپاره تیار دي، د شرکت ټول جایدادونه خصوصاً په کابل، بلخ، هرات، کندز، ننګرهار، کندهار او د هیواد نورو لویو ښارونو په تجارتي مرکزونو او ډېرو ښو موقعیتونو کې قرار لري، چې د خصوصي پانګونې په وسیله کیدای شي چې په دې جایدادونو سوداګریزې ودانۍ، د اوسیدو ودانۍ، تولیدي فابریکې، سړې خونې او د اجناسو د خرڅلاو سترې مغازې جوړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شي.

له خصوصی سکتور سره به د دولتي شرکتونو د قانون، تدارکاتو قانون، د عامه او خصوصي مشارکت قانون، د ځمکنیزو چارو قانون او منظور شوې اساسنامې په رڼا او د دولت چوکاټ کې عادلانه او منصفانه چلند او مشارکت کیږي.

# د ارتزاقي موادو په پروژه کې د پانګونې فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت له لوړو زده‌کړو وزارت نه د پوهنتونونو د لیلیو د غذایي موادو د اکمال قراردادونه تر لاسه کړې او هڅه کوي چې د دفاع وزارت، داخله وزارت، تخنیکي او مسلکي اداري اړوند لیلیو، سرحدونو او قبایلو وزارت لیلیو، انټرکانټیننټال هوټل او نورو دولتي او غیردولتي ادارو د غذایي موادو د اکمال پروژې واخلي او په ښه توګه تطبیق کړي چې په هکله یې له ذکر شویو ادارو سره همغږي او جدي تعقیب جریان لري. د ارزاقو دولتي شرکت ژمن دی چې د ارتزاقي موادو په پروژو کې د هیواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د خصوصي سکتور پانګونې ته زمینه برابره کړي او دا د خصوصي سکتور پانګوالو لپاره د غذایي موادو د توزیع برنامې د پراخوالي په موخه د پانګونې یو ښه فرصت دی.

# د ځنځیري مغازو Chain of Super Stores برنامه کې د پانګونې فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت غواړي چې لمړی په کابل او بیا د هیواد نورو لویو ښارونو کې د غذايي موادو د پلورلو تېپک مغازې جوړې او فعاله کړي، د کابل ښار په ۵ برخو کې او لویو ښارونو (کندهار، مزارشریف، هرات او جلال اباد) په سوداګریزو ساحو کې یوه-یوه مغازه جوړه او فعاله کړي چې هغه مغازې به یو ځانګړی ډیزاین لري او غذايي مواد به تر عام بازار په ټیټ نرخ او بېل تخفیف محترمو ښاریانو باندې پلورل کیږي.

د ذکر شویو مغازو د جوړولو طرح او سوداګریز پلان په جریان کې دی، خصوصی سکتور کولای شي چې په دې برنامه کې د ارزاقو دولتي شرکت شریک او همکاری شي.

# د روب جوړولو فابريکه کې د پانگونې فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت غواړي چې له کروندگرو د روميانو حاصلات را ټول او په معياري ډول او مناسب نرخ د داخلي توليداتو نه گټه تر لاسه او فعاليت وکړي، خصوصي سکتور کولای شي چې د روب فابريکې جوړولو لپاره د عامه او خصوصي مشارکت قانون مطابق د پانگونې له لارې د تجارت د پرمختگ او کارموندنې په وسيله د هيواد د اقتصادي ثبات او پرمختگ کې د ارزاقو دولتي شرکت سره برخه واخلي.

د روب جوړولو فابريکې طرحه جوړه او ژر به د ذيصلاح مقاماتو د منظورې اخستلو وروسته پرانستل شي، هغه خصوصي شرکتونه چې دې برخه کې د کار ظرفيت او تجربه ولري کولی شي د ارازقو دولتي شرکت سره د هيواد د نافذه قوانينو په رڼا کې گډون وکړي.

# د نباتي غوړيو فابريکې جوړولو کې د پانګونې فرصتونه

افغانستان يو وارداتي هيواد دی او اوسمهال ډېره اړتيا احساسيږي چې چې د لمړنيو غذايي موادو د توليد برخه کې پرمختګ وکړي، ټولې دولتي اداري مکلفې دي چې د داخلي توليداتو د ودې په برخه کې کار او خپل مسؤليت اداء کړي، په دې هکله د ارزاقو دولتي شرکت پلان کې لري چې هيواد کې د نباتي غوړيو د توليد فابريکه جوړه کړي؛ لمړنۍ طرحه، د بازار سروې او ټولې تخنيکي چارې يې تر سره شوې، همدارنګه د کابل ښار صنعتي پارکونو سره يوه قطعه ځمکه هم ورته ځانګړې شوې.

خصوصي شرکتونه کولی شي دې برخه کې له ارزاقو دولتي شرکت سره د مشارکت په ډول فعاليت وکړي.

# د سږو خونو جوړولو برخه کې د پانګونې فرصتونه

د کروندګرو او باغلرونکو د حاصلاتو د ساتنې، د وطني میوو او سبزیو د صادراتو د ودې او د حاصلاتو د خرابیدو او ضایع کیدو د مخنیوي لپاره د سړو خونو جوړول ډېره ستره اړتیا ده، همدارنګه د چرګانو د غوښې او هګیو کاروباریان هم د سړو خونو نه ګټنه کولی شي چې د ارزاقو دولتي شرکت او شریکانو نه یې په کرایه تر لاسه او ترې استفاده وکړي.

د سړو خونو جوړول په هیواد کې یو مثبت او لوی ګام دی چې د ارزاقو دولتي شرکت په مرکز او ولایتونو کې له خپلو ثابتو جایدادونو د سړو خونو د جوړولو لپاره مؤثره ګټه اخستلای شي.

داخلي او خارجي پانګوال کولای شي چې په تعین شویو شرایطو د ارزاقو دولتي شرکت سره د سړو خونو په جوړولو کې شریک او پانګونه وکړي.

# له نړیوالو مؤسسو د کمکونو را جلبولو پروګرام

- په افغانستان کې د خوړو نړیوال سازمان WFP د غذایي برنامو په تطبیق کې ګډون
- د ټولنې په مختلفو برخو کې د غذایي کوپون د برنامې پیلول

# په افغانستان کې د خوړو نړیوال سازمان WFP د غذایي برنامو په تطبیق کې ګډون

لکه څرنګه چې د خوړو نړیوال سازمان WFP په افغانستان کې د غذایي موادو په توزیع، غذایي خوندیتوب او نورو داسې برخو کې کار کوي چې د ارزاقو دولتي شرکت ورسره د مشارکت له لارې د خوړو نړیوال سازمان ذکر شوې پروګرامونه په نسبتاً کم مصرف او مؤثره توګه تطبیق کولی شي.

د ارزاقو دولتي شرکت اداري ظرفیت د پخوا په نسبت څو برابره لوړ شوی او د هیواد په ۳۰ ولایتونو کې فعالي نمایندګي او کارمندان لري، د خوړو نړیوال سازمان کولی شي د مشارکت له لارې خپل پروګرامونه د قرارداد او یا مشارکت په ډول د ارزاقو دولتي شرکت له لارې تطبیق او پر مخ یوسي.

د خوړو نړیوال سازمان لپاره د مشارکت او قرارداد پروپوزل ترتیب شوی چې په نږدې راتلونکې کې به له یادې اداري سره شریک شي.

# د ټولنې په مختلفو برخو کې د غذايي کوپون د برنامې پيلول

د ارزاقو دولتي شرکت په تېرو کلونو کې شاوخوا ۴۶۰۰۰ هيوادوالو ته د غذايي کوپون د توزيع پروګرام تطبيق کړی چې په هيواد کې د تېرو لسيزو څو ځله تحولاتو را وروسته ذکر شوی پروګرام بند شوی، اوس چې د ارزاقو دولتي شرکت خپل اساسي فعاليتونه پيل کړې، پلان کې لري چې په مرکز او د هيواد لويو ښارونو کې د غذايي کوپون پروګرام دولتي کارمندانو، ښوونکو او عامو خلکو لپاره پيل کړي.

د غذايي کوپون پروګرام د اولني غذايي موادو د نرخونو د کنترول او عامو خلکو ته په ټيټ نرخ د غذايي موادو د رسولو لپاره يو ستر او مؤثر ګام دی، خصوصي داخلي او خارجي پانګوال او مرستندويه اداري کولای شي چې د ارزاقو دولتي شرکت سره د غذايي کوپون پروګرام جوړولو کې شريک او هملاسي شي.

# له داخلي توليداتو او وارداتو د غذايي موادو عرضه کول، ذخيره کول او تهيه کول



لکه څرنګه چې افغانستان يو وارداتي هيواد دی او لمړني غذايي توکي لکه غنم، حبوبات او... له ګاونډيو هيوادونو واردوي، داخلي کروندګر د خپلو حاصلاتو لپاره ثابت بازار نه لري او يا يې هم په ډېر ناچيز نرخ د خپلو حاصلاتو را ټولولو وروسته خرڅوي چې هر د هر کال په جريان کې د غذايي موادو نرخونه دومره لوړ شي چې د عامو خلکو لپاره ستونزې جوړوي.

دا چې د ارزاقو دولتي شرکت په مرکز او ولايتونو کې ګدامونه او هنګرونه لري، همدارنګه په نظر کې لري چې د غذايي موادو د ساتنې لپاره سړې خونې او معياري ځايونه جوړ کړي، په پلان کې ده چې لمړی له داخلي توليداتو لمړني غذايي مواد لکه غنم او حبوبات له کروندګرو واخلي او ذخيره کړي، چې له هغه وروسته يې په مناسب نرخ را وارد او پخپلو ګدامونو کې وساتي چې د اړتيا په صورت کې بازار ته عرضه او هيوادوالو او دولتي او خصوصي ادارو ته په مناسب نرخ خرڅ کړي.

همدې لپاره د ارزاقو دولتي شرکت طرح، د بازار سروې او تخنيکي چارې تر سره شوې، خصوصي داخلي او خارجي پانګوال کولی شي چې د ارزاقو دولتي شرکت سره په ياده برخه کې د هيواد د نافذه قوانينو تر چتر لاندې مشارکت او هملاسي شي.

# د رسمي چارو پر مخ وړلو لپاره د شرکت لخوا اسانتیاوې

د ارزاقو دولتي شرکت د دولت په چوکاټ کې د یووه انتفاعي شرکت په توګه معتقد دی چې د هیواد پرمختګ په داخلي او خارجي پانګونه کې نغښتی دی، همدارنګه ژمن دی چې اوږه په اوږه له خصوصي سکتور او نړیوالو پانګوونکو سره کار وکړي او خپل پروګرامونه او پروژې پر مخ یوسي.

د ارزاقو دولتي شرکت رهبري د مشارکت د پروسو په اسانتیاوو کې له هېڅ راز هڅې دریغ نه کوي او تل د داخلي پانګوالو او نړیوالو همکارانو په خدمت کې دی، د هیواد د نافذه قوانینو، د دولتي شرکتونو د قانون او د عامه او خصوصي مشارکت قانون مطابق په افغانستان کې د پانګوالو لپاره وړ او مناسب ځای دی.


مولوي عبدالرازق رفیع

د ارزاقو دولتي شرکت اجرائیوي رئیس

د اړیکې شمیره: ۰۷۹۵۲۳۳۴۱۹/۰۷۹۱۳۲۶۹۰۷

ایمیل ادرس: generalfooddept@gmail.com

د دفتر ادرس: د مرکزي سیلو څنګ ته، کابل افغانستان

# د پانگه‌والو لپاره شرایط

عمومي شرایط:

1. پانگونکی حقوقي شخص (شرکت) وي او د صنعت او تجارت وزارت څخه قانوني جواز ولري
2. د پانګونکي جواز باید نوی (اپډیټ) وي، له ماليې وزارت نه د وروستی مالیاتي تصفیې اسناد ځان سره ولري او همدارنگه د عدم مسؤلیت تصدیق درلودل د کورنیو چارو وزارت څخه لازمي دی.
3. پانگونکی باید TIN او پخپل نوم بانکي حساب ولري.
4. له مالي اړخه برلاسی او قوي تخنیکي ظرفیت ولري.
5. افغانستان کې فزیکي حضور ولري.
6. د قرارداد کولو قانوني وړتیا ولري.
7. د قرضونو اداء کولو څخه عاجز نه وي، د مالي ماتیدو او لمنځه تلو حال کې نه وي، سوداگریز فعالیتونه یې له ځنډ او خنډ سره مخ نه وي او عدلي او قضایي ارگانو ته نه وي ور پیژندل شوی.
8. له اداري سره د گټو تضاد ونه لري.
9. دې پروسه کې د گډون نه دوه کاله مخکې د په سوداگري کې د تخلف په وجه د محکمې له لورې مجازات شوی نه وي.

خاص شرایط:

د ارازقو دولتي شرکت شرایط د هر پروگرام لپاره له داخلي خصوصي او خارجي پانگوالو سره د تدارکاتو قانون، پانگونې قانون، زمینداري قانون او هیواد نافذه قوانینو په رڼا کې د هر پروگرام او هرې پروژې لپاره د هغې پروژې د نوعیت مطابق بیل شرایط وضع کیږي.

# ستاسو له پاملرنې مننه

# پوښتنې...؟؟؟